روژاتي ۴۸ ګټې حاصلوي

راليږونکی: عبدالسلام حنفي

روژه نيول پر مسلمان فرض ده الله تعالی فرمائي:
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ) .بقره: ۱۸۳(
ژباړه: آی مومنانو! فرض شوې ده پر تاسو روژه لکه چي پر مخکنيو مسلمانانو فرض شوې وه ددې لپاره چي په تاسي کي تقوی او پرهېز ګاري پيدا شي.

تفسير قرطبي کې ليکي چي په يهودو او نصارو يوه يوه مياشت روژه فرض وه خو دوی بيا زياتوالی پکښي راوستی او د امام مجاهد څخه امام قرطبي رح نقل کوي چي روژه پر هر امت فرض وه او تشبيه په نفس فرضيت کې دی.

د روژې نيولو پنځوس ګټي او د نه نيولو پنځوس زيانونه يې:

۱ :د روژې په هره شپه کي الله تعالی ځينې بنده ګان د اور څخه خلاصوي. (مشکوة:۱۷۳)

۲ :د روژې په راتلو سره د دوزخ دروازې بندېږي. (مشکوة: ۱۷۳)

۳ :د روژې په مياشت کې د ليلة القدر شپه شتون لري چي د زرو شپو څخه غوره ده.

۴ :رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي : چي د انسان د هر نيک عمل په مقابل کي نيکي زياتيږي د يوې نيکۍ په مقابل کي لسو څخه تر ۷۰۰ پورې نيکۍ زياتيږي الله تعالی فرمائي : مګر روژه نيول ځکه چي دا زما لپاره ده او زه په دې سره بدله ورکوم او خپل شهوت او خواړه زما له کبله پريږدي.

روژه نيوونکي لپاره دوې خوشحالۍ دي يوه په روژه مات کي او بله خوشحالي چي کله د رب تعالی سره ليدنه کيږي.

روژهډال دی د شیطان او ګـناهونو لپاره کله چي د انسان روژه وي نو د بې ځایه او ناروا خبري او شور دي نه کوي او که څوک ورسره جنګ کوي نوورته دې وائي چي زه روژاتي یم.(مشکوة: ۱۷۳)

په پورتني حدیث کې د روژې ګټې دا دي:

۵ :روژه په ورځ د الله تعالی سره خبرې کوي) .۱(

۶ :د روژې اجر د نورو عملونو څخه زیات دی چي د ۱۰ څخه تر ۷۰۰ پوري اجرونه ورکوي.
۷ :روژه نیوونکي شهوت او خواړه پرېښودل د الله تعالی لپاره وي.

۸ :روژه نیوونکي لپاره خوشحالي ده د روژه مات په وخت کې.

۹ :روژه نیوونکي لپاره خوشحالي د قیامت په ورځ کې د الله تعالی سره لېدنه ده .

۱۰ :د روژ ه نیونکي خوله ښایسته بوي کوي.

۱۱ :د روژ ه نیونکي د خولې خوشبوئي د الله تعالی په وړاندي د مشکو د خوشبوئي څخه ډېره خوښه ده.

۱۲ :روژه د ګـناهونو لپاره ډال دی چي انسان پرې بچکېږي.

۱۳ :روژه د شیطان لپاره ډال دی.

۱۴ :روژه باطلو ته ډال دی .

۱۵ :روژه د دوزخ د اور لپاره ډال دی.

۱۶ : د روژې سره انسان د بدو خبرو او شور څخه ژغورل کېږي.

۱۷ : د روژې سره انسان بدو ردو او جنگ څخه ساتل کېږي.

۱۸ :روژه نیونکی به جنت ته د باب الریان دروازې څخه ننوځي) .۲(

۱۹ :د روژې په راتللو سره شیطانانو او پیریان تړل کېږي.(مشکوة ۱۷۳)

۲۰ :د روژې په راتللو سره د جنت دروازې خلاصیږي.(مشکوة ۱۷۳)

۲۱ :په روژه کي د الله تعالی له لورې اعلان کوونکی اعلان کوي چي آی د خیر غوښتونکیه! د خیر غوښتنه کوه او د شر غوښتونکیه ! د شر څخه ځان وساته.(مشکوة ۱۷)

۲۲ :په دې سره تقوا لاسته راځي چې دا یو ډېر ستر نعمت دی لکه په پورتني ایت کي یې یادونه شوې ده بیا پنځه پنځوس گټې په الفوائد في تزکیة القلوب ج ۱ ص ۱۶۴ څخه تر ۲۵۵ پورې ذکر سوي دي .(

۲۳ :د روژې میاشت د برکت او د خیر میاشت ده چي انسان ته په روژه نیولو حاصلیږي. (مشکوة ۱۷۳)

۲۴ :روژه د مسلمانانو لپاره سپارښتنه (شفاعت) کوي چي الله تعالی دا بنده وبخښه.(مشکوة ۱۷۳)

۲۵ :رسوالله صلی الله علیه وسلم فرمائي: چي هر هغه انسان چي روژه ونیسي د ایمان د کبله او د ثواب د غوښتلو له کبله یې مخکني گـناهونه بخښل کېږي. (بخاري، مشکوة ۱۷۳)

۲۶ :روژه د انسان لپاره مِبوطه قلعه ده) .۳(

۲۷ :د روژې نـسبت الله تعالی ځانته کړی دی چې دا زما لپاره ده.

۲۸ :روژه کي نفل عبادت الله تعالی په فرضو عبادتو سره قبلوي. (مشکوة ۱۷۳)

۲۹ :روژه کې فرض عبادات الله تعالی په ۷۰ عباداتو قبلوي. (مشکوة ۱۷۳)

۳۰ :روژه د صبر میاشت ده او د صبر ثواب او بدله جنت دی.)مشکوة ۱۷۳ (

۳۱ :روژه د همدردئ او احساناتو میاشت ده د فقیرانو مسکینانو ، کونډو ضعیفانو سره (مشکوة ۱۷۳)

۳۲ :د روژې په میاشت الله جل جلاله د مومن رزق زیاتوي کله په مقدار سره کله په کیفیت او برکاتو سره. (مشکوة ۱۷۳)

۳۳ :روژه مات ورکول روژه دار انسان ته په دې سره ګناهونه بخښل کیږي او نفس د اور څخه ازا دیږي او پدې سره د روژه نیونکې په اندازه ثواب دی. (مشکوة ۱۷۳)

۳۴ : هر انسان چي روژه دار موړ کړي الله تعالی به د داسي حوض څخه اوبه ورکړي . چي بیا به نه تږی کیږي. تر دې چي جنت ته ننوځي. (مشکوة ۱۷۴)

۳۵ :د روژې میاشت اول یې رحمت منځ یې بخښنه اواخر یې د اور څخه خلاصون دی. (مشکوة ۱۷۴)

۳۶ :روژه دار ته په اخري روژې نیولو سره ګناهونه بخښل کیږي لکه مزدور ته چي مزدوري په اخر کې ورکول کیږي او دا یوازې د لیلة القدر شپې پوري ځانګړې نه ده .

۳۷ : د کال د اول څخه د کال تر اخره پورې روژې ته جنت ښایسته کیږي نو کله چي د روژې اوله ورځ شي نو یو ښایسته هوا راولوځي د عرش څخه لاندې د جنت په پاڼو د جنت په ښایسته حورو باندې او د احوري وائي: چي آی ربه ! ته موږ د جنت والاو څخه داسي خاندان وګرځوه چي زموږ سترګې وربا ندې یخې شي او د هغوی سترګې په موږ یخې شي . د بیهقي څخه دا روایت نقل شوی دی.(مشکوة ۱۷۴)

۳۸ :په روژه کي سحور (پيشمنی) راځي او په دې کې برکت وي .(مشکوة ۱۷۵)

۳۹ :روژه نفس د غوښتنو څخه منع کوي چې نور عباداتو کي دومره قوت نسته. (قرطبي – ۲۰۹ – ۲)

۴۰ :روژه د الله تعالی او بنده تر منځ يو راز دی چې دا راز بل چا ته نه ښکاري د الله تعالی څخه پرته نورو ته او نور عبادت خو ښکاره وي . قرطبي – ۲۰۹ – ۲

۴۱ :رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلي دي: هر انسان چې يوه ورځ د الله تعالی د رضا لپاره روژه ونيسي او په دېسره يې خاتمه وشي . نو دا به جنت ته داخل شي) .۴(

۴۲ :رسول الله صلی الله عليه وسلم ابو امامة رضی الله عنه ته وفرمايل چې پر تا باندې روژه نيول لازمه ده ځکه ددې برابر نشته په اجر عباداتو او عمل کې نو ابو امامة ته رسول الله صلی الله عليه وسلم بيا دا عمل وفرمايه) :۵(

۴۳ :ابو سعيد خدري رضی الله عنه فرمائلي دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هغه انسان چې روژه ونيسي د الله تعالی په لاره کي نو الله تعالی به دده مخ او ذات په دې ورځې د روژې سره د دوزخ د اور څخه اويا کاله لرې کړي. متفق عليه

۴۴ :رسول الله رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي هر هغه انسان چې روژه ونيسي د الله جل جلاله په لاره کې نو د دوزخ اور به ترې د سلو کلنو په مزل لري وي) .۶ (
۴۵ :رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلي دي هر هغه کس چې روژه ونيسي د الله تعالی په لاره کې نو الله تعالی به دده او اور تر منځ يوه کنده او لري والی وګرځوي لکه د مځکي او اسمان تر منځ).۷(

۴۶ :رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلي دي چې پنځه لمونځونه او يوه جمعه تر بلې جمعې پوري او روژه تر بلې روژې مياشت پورې دا ګناهونه ختمونکي دي هغه څه لپاره چې ددې ترمنځ دي کله چې دا د غټو ګناهونو څخه ځان ساتي) .۸(

۴۷ :روژه نه نونکي ته رسول الله رسول الله صلی الله علیه وسلم اوجبرائیل علیه السلام ښرا کړې ده).۹(

۴۸ :رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي چي د الله تعالی لپاره په هر روژه مات کې د اور او دوزخ څخه خلاصیدونکي سته نو په روژه سره انسان د دوزخ څخه خلاصيږي. (الترغیب والترهیب)